د لوی خدای په نامه

# په افغانستان کې د خبري رسنیو د امنیت لپاره د تګلارې جوړونې لاربنود

د افغانستان دخبریالانو مرکز (AFJC)
منی ۱۳۹۸

مینــه هغــه وخت لیــدل کېږي چــې یو خبریــال له انســانانو ســره د مینــې، خواخــوږۍ او د هغــوی د دردونــو او تکلیفونــو د ښــودلو لپــاره ســختۍ ګالي او پــه دې ډګــر کــې هــرې هڅــې او قربانــۍ تــه چمتــو دی.

**د کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم:** په افغانستان کې د خبري رسنیو د امنیت لپاره د تګلارې جوړونې لارښود

**لیکوال:** احمد قریشي

**ژباړن:** هارون هلال

**ایډیټر:** محمد آصف احمدزی

**د پښتې او پاڼو ډیزاین:** عصمت‌الله احراري

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ نسخې

**چاپ وار:** لومړی ځل، منی ۱۳۹۸

**وېبپاڼه:** www.afjc.af

**برېښنالیک:** afjc.media@gmail.com

**د اړیکې شمېره:** ۰۷۰۸۱۹۸۶۳۴

**د چاپ او خپراوي حقوق يې د افغانستان خبريالانو مرکز سره خوندي دي**

# لیکلړ

پیلامه ............................................................................ ۹
د رسنیو د امنیتي تګلارې د لارښود جوړونې په اړه.......................... ۱۳

## لومړی څپرکی

په نړیوالو او داخلي حقوقو کې د رسنیو امنیت.............................. ۱۷
۱-۱ د رسنیو امنیت په نړیوالو حقوقو کې ........................................ ۱۷
۱-۲: د رسنیو امنیت په داخلي حقوقو کې........................................ ۱۸

## دویم څپرکی

امنیتي تګلاره....................................................................... ۲۱
۲-۱: امنیتي تګلاره څه شی ده؟................................................... ۲۱
۲-۲: د یوې رسنۍ امنیتي تګلارې جوړولو او عملي کولو کې اړین ټکي .... ۲۲
۲-۳: د امنیتي تګلارې د اجراء پالیسي.......................................... ۲۳
۲-٤: تیاری........................................................................... ۲٤
۲-۵: له خطر ډکو ماموریتونو تائید............................................... ۲۷
۲-٦: د راپور یا ماموریت له پای ته رسېدو وروسته تدابیر......................... ۲۸

۲-۷: د بحران او خطر مدیریت ټیم ........................................ ۲۸

## دریم څپرکی

ډیجیټلي امنیت ........................................................ ۳۳
۳-۱: د وېرې او معلوماتو ترلاسه کولو لپاره انټرنیټي حملې ګواښ ...... ۳٤
۳-۲: د حکومت یا امنیتي او استخباراتي بنسټونو جاسوسي.............. ۳٥

## څلورم څپرکی

روحي او رواني امنیت........................................................ ۳۹
۴-۱: سټریس او اضطراب ................................................. ۳۹
۴-۲: په خبریال کې د اضطراب نښې نښانې................................. ٤٠
۴-۳: د خبریالانو د سټریس او اضطراب درملنه ........................... ٤١

## پیلامه

په افغانستان کې جنګ او شخړې چې اوس یې څلورمه لسیزه ده، لا دوام لري، د هېواد د ویجاړۍ، د تاوتریخوالي او خلکو ته د ډېر زیان رسېدو لامل شوې دي. له ۱۳۸۰ لمریز کال وروسته، کله چې په افغانستان کې نوی سیاسي نظام رامنځته شو او په تدریج سره د بېلابېلو رسنیو د پرمختګ لامل شو، جګړې په یوه بله بڼه دوام پیدا کړ او ټولو قشرونو په ځانګړې توګه د رسنیو ټولنې ته یې زیات زیان ورساوه.

په افغانستان کې په وروستیو دوو لسیزو کې پر خبریالانو او د رسنیو په مرکزونو د ګواښ او بریدونو پرله پسې پېښې رامنځته شوې دي چې ډېر زیات تلفات یې هم درلودل.

په (۱۳۹۷) کال تالقانو کې پر «هم صدا» راډیو د وسله والو کسانو مرګونی برید، په (۱۳۹۶) کال جلال اباد کې پر ملي راډیو ټلویزیون مرګونی برید، په (۱۳۹۶) کال په فیروزکوه کې پر «سرحد» او «عدالت غږ» راډیوګانو برید او د هغو سوځول، په (۱۳۹۴) کال کابل کې د طلوع نیوز کارکوونکو پر موټر خونړی برید، په (۱۳۹۴) کال کندز کې پر یو شمېر رسنیو برید او د هغوی وسایل پټول او یا

پـه (۱۳۸۹) کال پلخمـري کـې د پیمـان راډیـو پـر مرکـز بریـد او د هغې وسـایل پټـول پـه وروسـتیو کلونـو کـې پر رسـنیو لـه لویـو بریدونـو څخه دي.

د افغانسـتان د خبریالانـو مرکـز شـمېرنه ښـیي چـې لـه ۱۳۸۱ کال څخـه تـر ۱۳۸۹ لمریـز کال پـورې د هېـواد پـه بېلابېلـو سـیمو کـې ۱۱۱ خبریـالان او د رسـنیو کارکوونکـي پـه امنیتـي پېښـو کې وژل شـوي دي.

پـه داخلـي او نړیوالـو حقوقـو کـې رسـنۍ (د هغـې کارکوونکـي، دفترونـه او وسـایل) غیـري نظامـي بنسـټونه شـمېرل شـوي دي، بایـد درنـاوی ورتـه وشـي او له هـر ډول تېري څخـه خوندي واوسـي. په اصل کـې د رسـنیو بـې طرفـۍ تـه پـه کتـو پـه افغانسـتان کـې د رسـنیو امنیت او خوندیتـوب بایـد جـدي امنیتـي اندېښـنه نـه وي؛ مګـر پـر رسـنیو او خبریالانـو بانـدې اوسـني بریدونـه او ګواښـونه د دې لامـل شـوي چې د هغـوی امنیـت او خوندیتـوب پـه یـوې جـدي مسـئلې بـدل شـوي دي.

دې حالـت تـه پـه کتو، د رسـنیو مسـوولین پـه ځانګړې توګـه خبري رسـنۍ چـې ډېر لـه ګـواښ سـره مخامـخ دي، مهـم او دروند مسـئولیت لـري او لـه موجـوده ګواښـونو څخـه د ژغورنـې لپـاره لازمـه ده چـې پـه دوامـداره توګـه د خپـل کار اغېز او د کار په سـیمه کې د ګـواښ له اندازې خبـر وي او کـه څومره هـم له امنیتي ګـواښ پرته د کار ترسـره کول امکان نـه لـري، بایـد د هغـې پـر اسـاس د خپـل سـازمان پـر ضـد د ګواښـونو کچـې کمولـو لپـاره لاس په کار شـي.

د امنیتـي تـګلارې په چـوکاټ کې د لازمـو تدابیرو تدوین له رسـنیو سـره مرسـته کـوي چـې د امنیـت او خوندیتوب لپـاره امنیتـي برنامه جوړه کـړي. لـه هر څـه ورانـدې بایـد د ودانیـو، رسـنیزو وسـایلو او کارکوونکو د امنیـت مسـئلې بانـدې ډېـر تمرکز وکړي او ټـول توان او امـکان د دوی د سـاتنې لپاره ترسـره شي.

د هېـواد د رسـنیو لپـاره د امنیتـي کړنـلارې اهمیـت تـه پـه کتـو، د افغانسـتان د خبریالانـو مرکـز دا لارښـود لیکلـی او چمتـو کـړی دی او د بېلابېلـو رسـنیو مدیریـت پـه ځانګـړې توګـه خبـري رسـنیو ته لارښـوونه کـوي چـې د خپل تـوان او امکاناتو مطابـق د ګواښـمنو او بحراني حالاتو، لکـه جګـړو، شـخړو، ګډوډیـو، مظاهـرو، انسـاني او طبیعـي پېښـو لپاره خپلـه امنیتـي کړنـلاره چمتـو کړي.

## د رسنیو د امنیتي تګلارې د لارښود جوړونې په اړه

د رسـنیو امنیتـي تـګلارې لارښـود کـې وړانـدې کېدونکـې معیارونـه د ارزښـت لرونکـو مشـورو په توګـه وړاندې کېـږي او په قطعـي ډول په ټولو ځایونـو کـې د اسـتفادې وړ نـه دي او نه هـم د یوې رسـنۍ او خبریالانو د امنیـت تضمینولی شـي.

ښـایی د هـرې رسـنۍ کړنـې (دلتـه پـه خبـري رسـنیو تمرکـز شـوی دی) د بېړنیـو حالاتـو او ګـواښ پـه شـرایطو کې چـې خبریالان او رسـنۍ یـې ورسـره مخامـخ دي، توپیـر ولـري؛ مګـر پـه دې لارښـود کـې هڅه شـوې، هغـه معیارونـه چـې ډېـر کارول کېږي، ځـای پرځای شـوي دي؛ څـو خبـري رسـنیو سـره مرسـته وکړي چـې د هغـو په پـام کې نیولو سـره خپلـه امنیتـي پالیسـي چمتو کـړي او خپل امنیـت په خپل مټ او نوښـت سـره تامیـن کړي.

یوشـمېر رسـنۍ خپلـه امنیتي تـګلاره د دې لپاره چې له نویـو اړتیاوو سـره مطابـق وي، پـه دومـداره توګه یې نوې کـوي؛ مګر یوشـمېر تګلارې پـه دې دلیـل چـې د کارونـې وړ نـه دي، ځکـه چـې د وخـت لـه اړتیاوو سـره تـازه شـوې نـه دي او یـا دا چـې یواځـې د کاغـد پـر مـخ شـته، خو

عمل پرې نه دی شوی.

تر دې چې یو شمېر رسنیٔ د خپلو کارکوونکو د امنیت او خوندیتوب په اړه په ځانګړې توګه د هغو خبریالانو لپاره چې له ګواښ ډکو ماموریتونو لپاره استول کېږي، هیڅ ډول امنیتي پالیسي نه لري او یا دا چې امنیتي پالیسي یې ګونګه ده او د خپلو کارکوونکو امنیت او خوندیتوب یې هیڅ روښانه نه دی.

په داسې حال کې چې یو شمېر رسنیز بنسټونه ګټورې امنیتي تګلارې لري او په ځرګنده توګه د احتمالي ګواښونو څرنګوالي او هغې ته د رسېدنې لپاره یې کار کړی، لکه د هغو ګواښونو پر وړاندې چې ښځینه کارکوونکې ورسره مخامخ کېږي.

په افغانستان کې د رسنیو د امنیتي تګلارې د جوړونې لارښود د افغانستان د خبریالانو مرکز چمتو کړی دی او د هغې په ترتیب کې یې د نړیوالو بنسټونو، لکه له خبریالانو څخه د ملاتړ نړیوالې کمېټې (CPJ)، د مېرمنو د رسنیو نړیوال بنسټ (IWMF)، د سره صلیب نړیوالې کمېټې ( ICRC)، د مدافعانو د مخکښانو سازمان (Frontline Defenders) او د ملګرو ملتونو د ښوونیز، علمي او کلتوري سازمان) UNESCO) له پوهې او تجربو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د افغانستان د خبریالانو مرکز یو نادولتي خپلواک بنسټ دی چې په ۱۳۸۹لمریز کال په افغانستان کې له خبریالانو او رسنیو څخه د ملاتړ په منظور رامنځته شو. د دې بنسټ دفتر په کابل کې دی او د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې استازي لري.

د خبریالیٔ فنون او تکنیکونه یادول، د بیان ازادیٔ او رسنیو پورې اړوندې غونډې او ناستې جوړول، په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو د وضعیت په اړه خبر رسونه، د خبریالانو لپاره د کاري او ښوونیزو فرصتونو خپرول، د خبریالانو او رسنیو د حقوقو لپاره له

نړیوالـو او پـه هېـواد کـې مختلفـو سـیمه ییـزو بنسـټونو سـره همـکاري، رسـنیزې نمانځنـې دایـرول او د هېـواد د رسـنیو غـوره خبریالان سـتایل د افغانسـتان د خبریالانـو مرکـز لـه مهمـو پروګرامونـو څخـه دي.




د افغانسـتان د خبریالانـو مرکـز پـه اړه د زیاتو معلوماتو ترلاسـه کولو لپـاره د دغـه بنسـټ وېبپاڼـې تـه مراجعـه کولـی شـې او یـا له موږ سـره د ایمیـل یـا ټېلیفون لـه لارې اړیکه ونیسـئ.

## لومړی څپرکی

# په نړیوالو او داخلي حقوقو کې د رسنیو امنیت

### ۱-۱ د رسنیو امنیت په نړیوالو حقوقو کې

د نړیوالـو انسـاني حقوقـو لـه مخـې د رسـنیو ودانـۍ د ملکي بنسـټونو په توګـه پېژنـدل کېـږي، بایـد خوندي او لـه هـر ډول تېري څخـه خوندي و اوسي:

### الف) د ژنیو کنوانسینونه

د ژنیـو کنوانسـینونو (د ۱۳۲۸ لمریـز کال د زمـري ۲۱ مـې) او د هغـو د ضمایمـو (۱۳۵۶ لمریـز کال د مرغومـي ۱۸ مـې) لـه مخـې چې د جګـړو پـر مهـال د انسـاني حقونـو پـه اړه دي، ملکـي موخـې یـې هغه اهـداف ګڼلـي چـې نظامـي نـه شـمېرل کېږي.

د ژنیـو کنوانسـینونو، بـې هدفـه او ړانـده بریدونه چې معمـولاً ملکي خلـک پـه کې زیـان ویني، منـع کـړي دي او ویلي یې دي چـې نه یواځې ملکـي وګـړي بایـد پـه نښـه نـه شـي، بلکـې پـر نظامـي ځایونـو د بریـد پـه وخـت کـې بایـد لـه پـوره دقتـه کار واخیسـتل شـي چـې غیـر نظامي ځایونـه، سـیمې او د هغـوی وسـایلو تـه پـه کې زیـان ونه رسـیږي.

**ب) د لاهه کنوانسیون**

د لاهــه په کنوانســیون (۱۳۳۳لمریزکال) کې د امنیــت او خوندیتوب لــه اړخــه د رســنیزو ودانیو د ســاتنې مسـئله د شــخړو او ګــډوډو په حالت کــې د فرهنګــي اموالو/املاکــو د ملاتــړ پــه خاطـر مطـرح شــوې ده او لــه بشــکېلو غــاړو یې غوښــتي دي چې د رســنیو ودانیو ســره د ملکــي موخو په توګــه چلنــد وکــړي او د هغو ســاتنه وکړي.

**۱-۲: د رسنیو امنیت په داخلي حقوقو کې**

د رســنیو د کارکوونکــو امنیــت او خوندیتــوب لومــړی د یــوې رســنۍ د ادارې دنــده ده او دا موضــوع نــه یواځــې یــوه اخلاقي اندېښــنه ده، بلکې یــوه بشــکاره قانونــي ژمنه هــم ده چې بایــد د افغانســتان د قوانینــو له مخې ترســره شي.

**الف) اساسي قانون**

د افغانســتان اساســي قانــون چې پــه ۱۳۸۲ کال د مرغومــې په ۱۴مه نافــذ شــوی، پــه څلوردېرشــمه مــاده کــې د بیــان ازادي د افغــان وګړو حق ګڼلــی چــې لــه «تېــري» څخــه خونــدي دي او خلــک کولــی شــي په دې قانــون کــې له یادو شــوو اصولو ســره ســم خپل نظــر د لیکلو، انځــور او یا نورو وســایلو لــه لارې څرګنــد کړي.

**ب) د ډله ییزو رسنیو قانون**

د افغانســتان د ډلــه ییــزو رســنیو قانــون چــې د ۱۳۸۷ کال د وږې پــه ۱۰مــه نافذ شــوی، هــم په دې موضــوع باندې تم شــوی دی. پــه ځانګړې توګــه د دې قانــون پــه دویمــه او څلورمــه مادو کــې د خبریالانو لــه حقونو څخــه ملاتــړ، د رســنیو ازاد فعالیــت لپــاره د شــرایطو برابــرول او د هغــو غښــتلي کولــو تــه اشــاره شــوې ده چــې پــه حقیقــت کــې د رســنیو امنیت رانغــاړي او بایــد رعایــت او درنــاوی یې وشــي.

## ج) د خصوصي رسنیو د تاسیس او فعالیت څرنګوالي جریده/ مقرره

د خصوصي رسنیو د تاسس او فعالیت څرنګوالي جریده چې د (وزیرانو شورا له خوا په ۱۳۹۴/۵/۲۱ نېټه تصویب شوې) هم د رسنیو امنیت او خوندیتوب ته پاملرنه کړې ده.

د دې مقررې د ۱۶مې مادې د اووم بند له مخې، د رسنیو څښتنان او رسنیزې ادارې په دې مجبورې دي چې د رسنیو کارکونکو امنیت او خوندیتوب لپاره له قانون سره سم اړین تدابیر ونیسي.

همدارنګه د دغې مقررې د اوومې مادې مطابق، هر کله چې د یوې رسنۍ کارکوونکی معلول، شهید یا زخمي کېږي، د معلولینو، شهیدانو او زخمیانو د حقوقو د قوانینو احکامو له مخې د امتیازیاتو او حقوقو څښتنان کېږي.

د دې مقررې په اتمه ماده کې د رسنیو کارکوونکو د حقونو او امتیازاتو په اړه داسې ویل شوي دي:

(۱) د رسنیو هغه کارکوونکي چې د خبري پوښښ په موخه سیمي ته ځي، د هڅوونکو امتیازاتو مستحق ګڼل کېږي چې د هغې اندازه د طرفینو د هوکړې له مخې ټاکل کېږي.

(۲) هغه خبریالان او همکاران چې جګړه ییزو سیمو ته د خبري پوښښ لپاره استول کېږي، هره ورځ د دوه ورځو معادل میاشتني معاش مستحق ګڼل کېږي.

(۳) له هري تروریستي پېښې څخه د یوه راپور چمتو کول د یوې ورځې معاش معادل ورته حسابېږي.

د مقررې په اته ویشتمه ماده (د ادارې د مسئولیتونو برخه) کې ویل شوي دي، رسنۍ مکلفې دي چې خپلو کارکوونکو په ځانګړې توګه ښځینه خبریالانو ته امن، خوندي او مناسب چاپېریال برابر کړي

او د کارکوونکـو د امنیـت لپـاره د کار د خوندیتـوب قواعـد او تخنیکونـه مراعـت کړي.

# دویم څپرکی

# امنیتي تګلاره

## ۲-۱: امنیتي تګلاره څه شی ده؟

د هـر هغـه څـه تـاکل او تعریف چې د یوه سیسـتم، سـازمان او یـا اداري خوندیتـوب پـه معنـا وي، امنیتي تـګلاره او یا امنیتي پالسـي ګڼـل کېږي.

پـه داسـې حـال کې چـې لـه رسـنیو د سـاتنې موضـوع پـه ځانګړې توګـه د خبریـال او یا د نـورو کارکوونکـو د ژوند خوندیتوب تـه لومړیتوب ورکـول وي او بایـد د امـکان تـر کچې د امنیتـي ننګونو له منلو ډډه وشـي، یـوه رسـنیزه اداره نه شـي کولـی د امنیتي ګـواښ له امله چـې موجود وي، لـه خپلـو مسـلکي موخو څخه په شـا شـي.

پـه دې حالـت کـې، اړتیـا لیـدل کیـږي چې پـه افغانسـتان کـې یوه رسـنۍ پـه ځانګـړې توګـه خبري رسـنۍ چې لـه زیاتېدونکي ګواښ سـره مخامـخ دي، باید رسـنیزه امنیتي تـګلاره او پروتوکولونه ولـري ترڅو چې په وسـیله یې د خپل امنیت (رسـنیزو تاسیسـاتو او وسـایلو او کارکوونکو) لپـاره کار وکړي.

امنیتـي تـګلاره د یوې رسـنۍ د امنیـت او خوندیتوب په اړه د رسـنۍ د مسـئولینو او کارکوونکـو مسـئولیتونه او اصول بیانوي.

یـو شـمېر رسـنۍ دا سـند پـه لیکلي بڼه نـه لـري؛ مګر په هـر حال د یـوې رسـنۍ امنیتـي تـګلاره باید د هغـه چا پـه واک کې ورکړل شـي چې تـرې اغېزمـن کېـږي او پـه دې برخـه کـې د هغـوی همغـږي او ملګرتیـا اړینه ده.

لیکلـې امنیتـي تـګلاره پـه واک کې درلـودل او هغې ته لاسرسـی، د هغـې د ښـه عملي کولـو او مخکـې ورلو زمینـه برابروي.

د امنیتـي تـګلارې (پالیسـۍ) موخه دا ده چې رسـنۍ تـه د ګواښ او خطـر مدیریـت کولـو زمینـه برابره کـړي، څـو کارکوونکي، تاسیسـات او وسـایل خونـدي کړي.

## ۲-۲: د یـوې رسـنۍ امنیتـي تـګلارې جوړولـو او عملـي کولو کـې اړیـن ټکي

د یـوې امنیتـي هـر اړخیـزې تـګلارې د برابرولـو لپـاره د رسـنیو مدیریـت د رسـنۍ د خوندیتـوب او امنیـت پـه برخـه کـې لـه کارکوونکو سـره پـه موافقـې او همـکارۍ کاري اصـول بیانـوي.

پـه امنیتـي تـګلاره کې چې پـه منظم ډول (پـه معمـول ډول هر کال) د فعالیـت سـیمې امنیـت تـه پـه کتو یـې بیاکتنـه ترسـره کېـږي، د هغې د اجـرا کولـو څرنګوالی او مسـئولیت او د رسـنۍ ادارې او د هر کارکوونکي رول پـه واضحه توګـه بیانیږي.

د رسـنۍ مدیریـت د کارکوونکـو پیشـنهادونو پـه نظـر کې نیولو سـره د رسـنۍ او کارکوونکـو پـر وړاندې د احتمالي ګواښـونو تحلیـل او ارزونه ترسـره کوي.

پـه ګواښـونو او خطرونـو کې دغـه لاندې مـوارد شـامل دي (یواځې پـه دې مواردو پـورې محدود نـه دي):

- پـر رسـنیو (ودانـۍ، فني وسـایلو) بانـدې انفجـار، فزیکي/وسـله

والـې حملې؛

- د رسـنیو پـر کارکوونکـو بانـدې انفجـار، فزیکـي/ وسـله والـې حملـې؛
- پـر رسـنیو او کارکوونکو بانـدې یې د کیمیاوي، سـمي، زهرجنو او نـورو مـوادو په وسـیله حمله کول؛
- د کارکوونکو لپاره طبیعي او انساني پېښې او ساري ناروغي.
- د کارکوونکو ژوبلېدنه یا مړینه.
- پر کارکوونکو او رسنیو باندې انټرنیټي حملې.
- د کارکوونکو رواني ګډوډي.




په جلال اباد کې د ملي راډیو تلویزون پر ودانۍ مرګوني برید چې په دې پېښه کې څلور کارکوونکي ووژل شول. (۲۷ ثور ۱۳۹۶)

د رسـنیو مدیریـت د ارزیابـي او څېړنـې په اسـاس ترسـره کېږي چې په وسـیله یـې لازم تدابیر نیسـي.

## ۲-۳: د امنیتي تګلارې د اجراء پالیسي

د رسـنیو مدیریـت باید د رسـنۍ د فعالیت سـیمې د امنیتي وضعیت د شـرایطو ارزیابـي او څېړنـې یـا د خبریـال د ماموریـت سـیمې تـه په پام

سـره لازم تدابیـر ونیسـي. دغـه تدابیـر د پېښـې د رامنځته کېدو، د پېښـې پـر وخـت یـا وروسـته له هغـې (د رسـني پـه ودانـۍ او دفتـر کـې دننه یا د خبریالانـو د بهرنـي ماموریـت پـر وخـت) د تیـاري «امادګـۍ» سـبب کېدلی شـي.

### ۲-٤: تیاری

د احتمالي خطر پر وخت د تیاري اړین ټکي:

الـف) فزیکـي، امنیتي او د رسـنۍ د ودانۍ تخنیکـي (فزیکي دېوال،




روزل شـوی سـاتونکی ګومـارل او امنیتـي کمـرې نصبـول) تجهیـز او د رسـنۍ پـه ودانـۍ کـې د کارکوونکـو امنیـت او ژغورنې د تخنیـک یادول.

ب) کاري ماموریت ته د لېږونکو خبریالانو ځانګړې ښوونه

د رسـنۍ اداره کولـی شـي پـه خپلـې بودیجې سـره خبریـالان د اړتیا پـه وخـت کـې وروزي یـا دغـه کار د خبریالـۍ د نـورو اړوند بنسـټونو په مرسـته ترسـره کړي. دغـه روزنې کېدای شـي پـه لاندې مـواردو کې وي:

- پـه جګـړه ییـزو، خرابـو، لـه شـخړو، نـا امنـو او لـه نـا امنیـو ډکـو سـیمو کـې د کار څرنګوالـی.

- د احتمالـي خطـر پـر وړانـدې د خطـر څېړنـه او پـلان جوړونه (د مثـال پـه ډول د انفجـار خطـر/ د دویـم انفجـار یـا د پېښـې په ځـای کې تـر هـدف لاندې نیـول، فزیکي حملـه، کیمیایـي، زهرجن مـواد، ماین او انفجار، تښـتونه یـا صحي سـتونزې)؛

- پـه بحرانـي شـرایطو یـا لـه خطـر ډکـو سـیمو کـې د ژغورنـې مهارتونـه، لکـه مایـن او انفجـاري مـواد، کمین، تښـته، مظاهره، شـخړه، زلزلـه، سـېلاب، واوره ښـویېدنه او اور لګېدنـه؛

- اولیه صحي مرستې؛

- د تښتونې په وخت کې د مذاکرې مهارتونه؛

- د انسـاني او طبیعـي فاجعـو پوښـښ (لکـه، زلزله، سـېلاب، واوره ښـوېېدنه او اور لګېدنـه) یـا سـاري ناروغي؛

- ډیجیټلـي خوندیتـوب، لکـه له خطر ډکو سـیمو کـې ټېلیفون څخه اسـتفاده، انټرنیټـي حملې، په ټولنیزو رسـنیو کې ایمیل او کاري حسـابونو ته پاسـورډ ورکول؛

- اروا پوهنه او له عواطفو ساتنه؛

ج) له خطر ډکو سیمو ته د لېږلو لپاره د خبریال تیاری

د رسـنیو مدیریـت باید لـه خطر ډکـو کاري ماموریتونو تـه د خبریال لـه لېږلـو وړانـدې، هغه څه چې په دې اړه مهـم دي، په نظر کې ونیسـي. په دې برخه کې اړین ټکي:

- خبـري رسـنۍ بایـد لـه وړانـدې ډاډمنـه شـي چـې خبریـال او یـا خبـري ټیـم یـې د ماموریـت لپاره لـه پوره روحي او جسـمي تیـاري څخه برخمـن دي؛

- دغـه موضوع ښـایي د رسـنیو د ټولـو کارکوونکو لپاره نـه وي؛ مګر

هغـه خبریـالان چـې د خطرناکـو ماموریتونـو لپـاره تیاریـږي، بایـد بیمه شـوي اوسي؛




د طلوع نیوز راپور ورکوونکی صمیم فرامز او رامز احمدي د دغه تصویر اخیستونکی په کابل کې په ژوندۍ بڼه د یوه ځانمرګي برید د راپور په ترڅ کې په دویمه حمله کې ووژل شول. (۱۴ سنبله ۱۳۹۷)

● ټـول لومړنـي معلومات او د خبر له سـیمې څخـه د امنیتي ارزیابي خلاصه او د لارې مسـیر باید له خبریال سـره شـریک شـي. دغـه احتمال شـته چـې خبریال/خبـري ټیم پـه لاره کې تر هـدف لاندې ونیول شـي، د وسـله والـو ډلو په ښـته کې ګیر شـي، لـه کمین یا ډزو سـره مخانه شـي، د خبـري پوښـښ پـه وخـت کې تـر هدف لانـدې ونیول شـي او یا داسـې نور خطرونه؛

● د رسـنۍ مدیـر یا مسـئول شـخص بایـد ډاډه شـي چـې خبریال د پـوره خبـري پوښـښ لپـاره لـه پـوره تجهیزاتـو برخمـن دی او د ماموریت سـاحې تـه یـې د لېږلـو زمینـه برابـره شـوې ده. د خبریـال د اړتیـا وړ تجهیـزات د دسـتګاکانو یـا د اړتیـا وړ تخنیکـي کاري الات، واسـکټ او زري خولـۍ، بـوټ او مناسـبې جامـې دي. او کـه ماموریـت یـې په لرې پرتـو یـا غریبـز چاپیریـال کـې وي، سـټلایټ ټیلیفون یـا مخابراتـي فعال




AFJC

سیمکارتونه، پوښاک، مناسب خوراک او د ژغورنې بکسه او لومړنۍ صحي مرستې په نظر کې ونیول شي؛

- د رسنۍ مدیر باید ډاډه شي چې خطرناکو ماموریتونو ته لېږونکې خبریال ډاډمنه نقلیه وسیله او د اړتیا وړ تجهیزات لري؛
- که وسله واله نښته یا د نورو خطرناکو پېښو راپور ورکوي، د رسنۍ مسئول باید خبریال سیمې ته په سمدستي ډول د لېږلو لپاره تر فشار لاندې را نه ولي. خبریال باید د خپل تشخیص او یا د خطر د موجودیت د کچې په نظر کې نیولو سره پرېکړه وکړای شي.

## ۲-۵: له خطر ډکو ماموریتونو تائید

د جګړې سیمې یا په نښتو کې راګیرې سیمې د خطرونو کچې ته پاملرنه چې خبریالان ورلېږل کېږي، د خبریال یا خبري ټیم لېږل باید د لومړي شخص یا د رسنۍ د باصلاحیته کسانو له لوري تائید شي. هر څومره چې د رسنیو مسئولین په دې برخه کې په مسئولیت

عمـل وکـړي، په هماغـه انـدازه د خبريالانـو لپـاره امنيتي خطـر کميږي.

### ۲-۶: د راپور يا ماموريت له پای ته رسېدو وروسته تدابير

د خبريالانـو د حقوقـو د ټينګښـت لپـاره د رسـنيو اداره د هېـواد د قوانينـو پـه رڼا کې مناسـب مالـي، تدارکاتـي او اخلاقي ملاتـړ څرنګوالی پـه نظـر کې نيسـي. پـه هغـه صورت کـې چـې ځانـي تهديد يا جسـمي ضـرر او يـا مـرګ تهديـد په کـې وي.

### ۲-۷: د بحران او خطر مديريت ټيم

د پېچلـي او لـوی امنيتـي خطـر د پېښـېدو د احتمـال په خاطـر بايد پـه رسـنۍ کـې د خطـر يـا بحـران د مديريـت ټيـم رامنځتـه شـي. دغـه ټيـم پـه کوچنيـو رسـنيو کې کېدای شـي د رسـنۍ مهـم کارکوونکـي او يا لـه مسـايلو سـره اشـنا اشـخاص وي چـې پـه يـو منظـم چـوکاټ کـې په خطرناکـو او بحراني شـرايطو کـې د کارونو مديريت پـه لاس کې واخلي.

د رسـنيو مديريـت دغـه احتمـال ته پـه پام سـره چې خطـر او بحران پـه هـر حالـت کـې شـته او بايـد د ځان سـاتنې پـر ځای لـه خطر سـره د




پرويز صافي، د شمشاد تلويزون خبريال چې پر دغې رسنۍ باندې له حملې يو ساعت وروسته په پانسمان شويو لاسونو ژوندۍ خپرونه خپروي. (۱۶عقرب ۱۳۹۶)

مخامـخ کېـدو پـه صـورت کـې د هغـوی مدیریت وکـړي؛ د هغـې منفي اغېـزې کمې او داسـې چاپېریال رامنځتـه کړي چې خبریـال/ کارکوونکی وکولـی شـي پـه هغه کـې کار وکـړي او په مجموع کې رسـنی بایـد په دې برخـه کـې ټولـو کارکوونکو ته ځـواب ویونکې واوسـي.

د خطـر او بحـران د مدیریـت ټیـم بایـد د جـدي امنیتـي تهدیـد احتمـال او د خطرناکـو راپورونـو څرنګوالی وڅېـړي او وړاندوینې په نظر کـې ونیسـي چـې امـکان لـري د رسـنیو کارکوونکـي یـې قرباني شـي:

الـف) پر رسـنیو احتمالـي سـناریوګانې (ودانـۍ، کارکوونکـي، فني او تخنیکـي وسـایل)؛ یـوازې په لانـدې څو سـناریو پورې اړونـد نه دي:

- وسله وال برید؛
- د دفتر په نقلیه وسایلو یا دروازه پورې د مقناطیسي ماین نښلول؛
- پـر دفتـر یـا د دفتـر پر ودانـۍ بانـدې د هـاوان، راکټ یا لاسـي بم




پر شمشاد تلویزون مرکونی وسله وال برید، کابل (۱۶عقرب ۱۳۹۶)

غورځول؛

- په کیمیایي، زهري یا سوځوونکو موادو حمله؛
- د مظاهره کوونکو، غلو او چپاولګرو حملې

- سایبري حملې؛
- امـن سـیمې تـه د کارکوونکو انتقال یا د رسـنۍ ودانـۍ خالي کولو تـه اړتیا؛
- د رسنیو په تاسیساتو یا ودانۍ باندې د برېښنا قطع کېدل؛
- د انټرنیټ یا ټېلیفون د اړیکو پرې کېدل؛
- د کارکوونکو نیول؛
- د حمله کوونکو له لوري تښتونه یا نیونه؛
- د رسنیو د کارکوونکي/ خبریال زخمي کېدل یا وژنه؛
- نورې پېښې، لکه اورلګېدنه یا زلزله؛

ب) پـر کارکوونکـو (د رسـنۍ لـه چاپېریـال څخـه بهـر) بانـدې احتمالـي سـناریوګانې یـوازې پـه لاندې څـو سـناریوګانو پـورې اړوند نه دي:

- د پېښـې ځـای ته د تـګ یا بېرتـه راګرځېدنې په وخت کـې انفجار یا وسـله وال برید؛
- د پېښـې پـه ځـای کـې وسـله وال بریـد یـا انفجـار (مثـلاً، پـه یـو ځـای یـا خاصـه ډله بانـدې حملـه، له لومـړۍ پېښـې وروسـته انفجار او یـا تر هـدف لانـدې نیـول...)
- د کیمیـاوي او زهـري مـوادو، تېزابو یـا خطرناکو ګازونو په واسـطه برید؛
- د جنګي ډلو په کمین کې ګیرېدل؛
- د انفجاري موادو یا ماین په میدان کې راتلل؛
- تښتونه یا نیونه؛
- پـر خبریالانـو بانـدې تېری پـه ځانګـړي ډول د ښـځینه خبریالانو پـه وړاندې؛
- د رسـمي کار لـه پای ته رسـېدو وروسـته خطر او تهدیـد (مثلاً، په

کور کې د خبریال/ کارکوونکي د شتون په وخت کې)
– په ټولنیزو رسنیو کې د خبریالانو پر حسابونو سایبري بریدونه یا د هک کولو تهدید؛
– د کارکوونکي/ خبریال مړینه یا زخمي کېدل؛
د خطر او یا بحران د مدیریت ټیم کېدای شي د رسنۍ د رئیس/ مسئول مدیر او یا د صلاحیت لرونکي او په چارو پوه ارشد غړي په واسطه مدیریت شي. دغه ټیم باید د سیمې وضعیت سره مناسب چې په هر وخت کې رامنځته کېږي، غونډه جوړه کړای شي او د رسنیو او کارکوونکو د امنیت په اړه رامنځته کېدونکي احتمالي سناریو وڅېړي او هغې ته تیارى ونیسي.
د غوره امنیتي پالیسۍ د ترسره کېدلو لپاره لازمه ده چې د خطر او بحران د مدیریت ټیم د له ټولو جزئیاتو سره یوځای دقیقه امنیتي برنامه جوړه او د هغې د اجرا لارې په سم ډول وسنجوي او د شرایطو د بدلېدو امکان ته په پام امنیتي برنامه په دوامداره ډول تر بیا کتنې لاندې ونیسي.

درېيم خپرکی

# ډيجيټلي امنيت

نـن ورځ د ټکنالـوژۍ پـه پرمختګ سـره اړيکو او پـر انټرنيټ بانـدې اتکا زياتـه شـوې او رسـنيو او خبريالانـو لـه مخکـې څخه زيـات پـه انټرنيټي



نـرۍ پـورې تړاو پیـدا کړی دی. مګـر څومره چـې ډیجیټلـي ټکنالوژۍ او انټرنیـټ پرمختـګ کـړی، همغومـره ورسـره د انټرنیـټ کاروونکـو لپاره د خطـر سـطحه او تهدید زیات شـوی دی.

ګرځنـده ټیلیفونونـه، کمپیوټر او انټرنیټ په رسـنیزه کاري سـاحه کې د اړیکـو او د خبریالانـو د همغـږۍ او همدارنګـه د اطلاعاتـو د زېرمـه کولـو، د هغـې لـه جملـې د حساسـو اطلاعاتـو د ذخیره کولـو مهم کاري وسایل دي.

متاسـفانه چـې دغه وسـایل د رسـنیو او خبریالانو فعالیتونـو باندې د وېـرې، فشـار، محدودولـو، کنټـرول او مداخلې تـر ټولو لـوی توکي دی.

## ۳-۱: د وېـرې او معلوماتـو ترلاسـه کولـو لپـاره انټرنیټي حملې ګوابښ

د رسـنیو مدیریـت بایـد پـه پـام کـې ولـري چـې انټرنیټـي حملې، د وېبپاڼـو او د رسـنیو حسـابونه هـک کـول پـه ټولنیزو رسـنیو کې پـه بالقوه ډول بانـدې موجـود دي. حمله کوونکي کولی شـي د رسـنیو حسـابونو یا وېبپاڼـو پـه لاسـته راوړلـو سـره پـه ټولنیزو رسـنیو کـې د هغـوی امنیت تر




**د اریانا نیوز تلویزوني شبکې د ۱۳۹۷ کال د عقرب په ۸ اعلان وکړ چې د دغه تلویزون وېبپاڼه د پاکستاني هکرانو له لوري هک شوې ده.**

ګـواښ لانـدې راولـي او د خپلـو موخـو لپـاره ترې ګټـه واخلي.

پـر رسـنیو سـربېره خبریـالان هـم پـه انټرنیـټ بانـدې د زیاتـې اتکا او پـه مجـازي نـړۍ کـې د حضـور پـه سـبب تـر خطـر لانـدې دي. د خبریالانـو پـه شـخصي حسـابونو بانـدې انټرنیټـي حملې او پـه ډیجیټلي نـړۍ کـې ځورونه د دې سـبب شـوې ده چـې د خبریالانو امنیـت په پراخ ډول تـر ګـواښ لانـدې راولـي او سانسـور تـه یـې مجبـور کـړي یـا حتی لـه مجـازي نړۍ ځان ګوښـه کـړي. دغـه ډول وېـرې زیاتـره د ځېړنیزو او یـا ښـځینه خبریالانـو پـر وړانـدې رامنځتـه کېـږي او عاملیـن یـې د یوې موضـوع د خپرولـو او نـه خپرولـو پـه خاطر دوی ځـوروي.

غـلا او لـه اجـازې پرتـه د خبریالانـو تصویرونـه او یـا کورنـۍ او شـخصي خاطـرې نشـرول د دوی د ځورولـو مـوارد دي. هغه شـخص یا بنسـټ چـې دغـه ډول کارونه ترسـره کوي، کوښـښ کوي چـې خبریالان تـر فشـار لانـدې راولـي او خپلې غوښـتنې پـرې ومني.

پـه عیـن حـال کې لیـدل کېـږي چې ځینـې خبري رسـنۍ ښـایي په ناغوښـتلي ډول خپـل کارکوونکـي په ځانګـړې توګه خبریالان پـه ټولنیزو رسـنیو پـه خـاص ډول فیسـبوک کـې د فعال اوسـېدلو پـه وجـه ځورولي وي یـا د ځینـو رسـنیو کارکوونکي پـه ناخبرۍ د اړیکو لـه ټکنالوژۍ څخه ځورول شـوي دي.

## ۳-۲: د حکومت یا امنیتي او استخباراتي بنسټونو جاسوسي

پـر پورتـه مسـایلو سـربېره پـه ډیجیټلـي اړیکـو کـې د حکومـت یـا امنیتـي او اسـتخباراتي بنسـټونو د جاسوسـۍ مسـئله ډېـره مطـرح ده. د شـخصي حریـم سـاتنه او انلایـن امنیـت بایـد د خبریالانـو او رسـنیزې اداري پـه لومړیتوبونـو کـې وي، ځکـه د خصوصـي او محرمـو معلوماتو پـه له لاسـه ورکولـو کې پر رسـنۍ او خبریال سـربېره د خبریـال کورنۍ او

نـږدې کسـان هم تـر خطـر لانـدې راتلای شـي.

د خبريالـۍ يادونـې وېبپاڼـه «Poynter » د معلوماتـو پـر اسـاس، زياتـره پروتوکولونـه، لکـه « HTTP» د (ويـب پلټنـې) او « FTP » د (فايـل د لېږدونـې) او « SMTP » د (ايميـل رسـولو) لپـاره ډېـر امـن نـه دي، پـه سـاده ډول هغه راپورونه چـې د دغو پروتوکولونو لـه لارې لېږدول کېـږي، ښـايي د بـل هـر کس لـه لـوري وڅارل شـي.

البتـه دا هغـه ځانګړنـه ده چـې انټرنيـټ د خبـر شـريکولو پـه لويـه شـبکه بدلـوي. رسـنۍ کـه چېرته له حساسـو خبرونو سـره سـروکار لري، بايـد حتمـاً د دغـه پرتوکـول د امن نسـخې يـا له هغـه جانبي سرويسـونو څخـه چـې دغـه ډول معلوماتو پاسـورډ ورکـوي، ګټـه واخلي.

مسـئله دا ده چـې زياتـره انټرنيـټ کارونکـي، مثـلاً کلـه چـې ايميل لېـږدوي، فقـط ايميـل لېږدونکـي تـه فکر کـوي، په داسـې حـال کې چې دغـه ايميـل خپـل اصلـي مقصـد ځـای تـه لـه رسـېدو مخکـې لـه ډېرو سـرورونو څخـه تېرېـږي او پـه هـره نقطـه کـې امکان لـري چـې د يو چا




لـه لـوري چـې پېژنـئ يـې نـه، وليـدل او يا ذخيـره شـي. هر څـوک چې دغـو کمپيوټرونـو يـا لېږدونـې بهيرونـو ته لاسرسـی ولـري، د دغـه پاکټ لـه محتـوا خبرېـدای شـي. په دې حسـاب سـره فکر ونـه کړئ چـې د يوه

پوستي پاکټ د لېږلو پر مهال پاکټ ترل شوی دی. هغه څه چې د ایمیل له لارې لېږدول کېږي، د پُستال کارت ته ورته دی چې امکان لري یو څوک یې ووینې.

### د ډیجیټلي امنیت په خاطر مخکې له مخکې تدابیر

د رسنیو مدیریت کولی شي د دغه ډول خطرونو او تهدیدونو په پام کې نیولو سره له تخنیکي او پوهو کسانو سره په مشورې د ډیجیټلي خوندیتوب پالیسي جوړه کړي، څو د هغې پر اساس تهدیدونه او د انلاین فضا خطرونه ارزیابي او د مقابلې لارې یې پیدا او عملي کړای شي.

د ډیجیټلي امنیت ارتقا او د تخنیکي او پوهو کسانو په واسطه توصیه شوي سافټویرونو او دستګاګانو په استفادې او د کارکوونکو ښوونه کولی شي په دې اړه لازم او ګټور تدابیر و اوسي.

د مدافعانو د مخکښانو سازمان (Frontline Defenders) چې د بشري حقونو په اړه فعالیت کوي، د ډیجیتلي امنیت په اړه لاندې تدابیر توصیه کړي دي:

- له کمپیوټرونو، ناوړه سافټویرونو او هکرانو د ساتنې څرنګوالی؛
- د فزیکي خطرونو پر وړاندې د اطلاعاتو د ساتنې څرنګوالی؛
- د داخلېدو ډاډمن کوډ او د هغې ساتنې څرنګوالی؛
- د محرمانه فایلونو د ساتنې څرنګوالی؛
- له لاسه وتلیو اطلاعاتو د ترلاسه کولو څرنګوالی؛
- د محرمانه اطلاعاتو د لرې کولو څرنګوالی؛
- په انټرنیټي اړیکه کې د شخصي حریم د ساتنې څرنګوالی؛
- د ناپېژانده پاتې کېدو څرنګوالی او له انټرنیټي سانسور سره د مقابلې لارې چارې؛

- له ټولنیزو رسنیو څخه د استفادې پر وخت د شخصي اطلاعاتو ساتنه؛
- له ساده او زیرک (ټچ) موبایلونو څخه د استفادې څرنګوالی؛

په دې اړه د زیاتو معلوماتو لپاره د بشري حقوقو سازمان وېبپاڼې (www.securityinabox.org/fa) ته مراجعه وکړئ.

# څلورم څپرکی


# روحي او رواني امنيت

یـوه بلـه مهمـه مسـئله چې د افغانسـتان په رسـنیو کـې ورته تر اوسـه کمه پاملرنـه شـوې ده، د کارکوونکـو روحـي او رواني امنیـت دی. په معمولي ډول د رسـنیو کارکوونکـي په ځانګـړې توګه خبریالان په افغانسـتان کې د غیـر عادي وضعیـت یا د نامناسـبو، بحراني او لـه تاوتریخوالي ډکو کاري شـرایطو کـې په شـدید رواني فشـار او اندېښـنو اخته کېږي.

## ۴-۱: سټریس او اضطراب

دا خبـره بـه غلطـه نـه وي، کـه ووایـم چـې مـوږ زیاتـرو پـه یو نـه یو شـکل سـټریس تجربـه کـړی دی، ښـایي په یـوه کاري ضـرب الاجل کې یـا د یـوه ماموریـت د ترسـره کولـو یـا مهـم تصمیـم پـه خاطر مـو ممکن سـټریس درلـود. ویلې شـو چـې خبریالان او یا د رسـنیو نـور کارکوونکي د سـټریس په حالت کې کولی شـي پوه شـي چې کوم شـی یې اندېښـمن کـوي، مګـر یـو ډول د بـې قـرارۍ له حـس سـره مخامـخ دي. مثـلاً، که د خپـل ماموریـت پـه دوران کـې فلانـی کار ترسـره کـړي یا یې نـه کړي، معلومـه نـه ده چې څـه پایلـه به ترلاسـه کړي.

مګـر اضطراب له وېـرې، ناراحتۍ او اندېښـنې څخـه رامنځته کېږي او دلیـل یـې نـه پېژنـدل کېـږي او یـا یې پـه اړه پـوره خبرتیـا نه لـرو. هغه خبریـال چـې په اضطـراب باندې اختـه دی، ممکن د دغه حـس د بیانولو




لپـاره پـه یو شـي دومره قـادر نه وي. هغـه خبریال چې کار یې مشـاهده او د پېښـو راپـور دی، انسـاني او چاپېریالـي ناوړه فجایع یـې مضطرب کوي او عاطفـي ضربـه ور رسـوي. خبریـالان پـه دغـه ډول حالت کـې ممکن روحـي ضربـه چـې کارپوهـان یـې «اغېزلرونکـې ضربـه» یـا «ثانـوي» ګڼـي، وخوري.

## ۴-۲: په خبریال کې د اضطراب نښې نښانې

- هغـه خبریـال چـې پـه شـدید سـټریس او اضطـراب اختـه دی، ممکـن اندېښـمن، ځورېدونکـی، ګوښـه ګیر، بـې حاله، خفـه، غمجن یا عصبانـي پـه نظـر راشـي او دغه احساسـات ممکن پـه دوامـداره ډول وي او یـا کله کلـه وي.
- فزیکـي نښـې یې ښـایي پـه خوب یـا غـذا خوړلو کې ګـډوډي، د

زړه د ضربـان تېزوالـی، خولـه کول، وېـرې وهلې، سـردرد او همدارنګه د مخـدره مـوادو مصرف او په سـینې کـې درد وي.

– د شـخصي او کاري اړیکـو خرابېـدل او غالباً ځنګـه چې یې وینو، فـرد پـه ځـان فشـار راوړي او پـه غیرعـادي شـکل بانـدې پـه خپـل کار تمرکـز کـوي او یـا ډېر وسواسـي وي.

## ۴-۳: د خبریالانو د ستریس او اضطراب درملنه

هغـه خبریـال چې په شـدید سـتریس او اضطـراب بانـدې اخته وي، زیاتـره یـې پـه خطرناکـو او بحراني کاري شـرایطو کـې د رسـنیزې اداري تـر پوښـښ لانـدې کار کـوي. د رسـنیو مدیریـت بایـد پـه خبریالانو کې د فشـار زیاتوالـی او اضطـراب جدي ونیسـي. دغـه ډول حالـت ممکن د




خبریـال پـر کاري، شـخصي او ټولنیز ژونـد باندې منفـي او زیان لرونکی اغېـز ولري.

د رسـنۍ اداره بایـد لـه هغه خبریـال او یا نـورو کارکوونکو سـره چې په شـدید سـتریس او اضطـراب بانـدې اخته شـوي دي، مرسـته وکړي او

د يـوه اروپـوه په مرسـته يې له دغـه حالت څخه راوباسـي. مسـئول مدير او يـا صلاحيـت لرونکی شـخص بايد په رسـنيو کې د دغـه ډول ضررونو د بيانولـو کلتـور دود کـړي او د دې زمينـه برابـره کـړي، هغـه څـوک چې لـه دې ډول وضعيـت څخـه ځوريږي، فرصـت دې ورکړي چـې له خپلو ملګـرو سـره يې شـريکه کـړي او د درملنــې لاره يې پيـدا کړي.

پای